بسم الله الرحمن الرحیم

**په عراق او سوریه کې امریکا ته د ایران له خدمت وروسته امریکا د ایران پر وړاندې خپله رویه بدلوي**



دا خبره ورځ تر بلې څرګندېږي، چې د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ اوسنی چلند د ایران پر وړاندې یوازې د ایران د هستوي پروګرام لپاره نه؛ بلکې په حقیقت کې د ایران له سیمه‌ییزو فعالیتونو سره هم اړه لري. د رویټرز د رپوټ پر بنسټ چې د ۲۰۱۷م د اکتوبر پر لسمه خپور شو او پکې راغلي: ایران د سه شنبې په ورځ متحده ایالاتو ته وویل:که ډونالډ ټرمپ د ایران سپاه پاسداران ټرورستي سازمان ونوموي؛ دوی به هم له خپلو ټولو لارو چارو څخه کار واخلي. دا علان له هغه وروسته وشو، چې دولت وویل:که داسې کوم عمل وشي؛ واشنګټن به پخپله د ټرورېزم ملاتړی وي.تمه کېږي چې ټرمپ به په همدې اونۍ کې په دې اړه خپله وروستۍ پرېکړه وکړي، چې څرنګه د په سیمه کې ایران خپل نفوذ ته دوام ورکړي.

همدا ډول تمه کېږي چې ټرمپ به د ۲۰۱۵م لویه معامله فسخه کړي. ایران د نړیوالو قدرتونو له لوري له ګڼ شمېر هغو نړیوالو بندیزونو سره مخ دی،چې د خپل هستوي پروګرام په بندولو سره به ترې لرې شي. د ټرمپ دغه اعلان به ډېر ژر د دغه تړون د لغوه کولو مخه ونیسي او دا پرېکړه به کانګرېس ته پرېږدي او هغوی به په ٦٠ ورځو کې پرېکړه وکړي؛ چې د بندیزونو لرې تازه کړي که نه.همدا راز له نوموړي تمه کېږي، چې د ایران تر ټولو ځواکمن پوځ د اسلامي انقلاب سپاه پاسداران دې د ټرورېستي ډلې په توګه ونوموي. د امریکا لخوا پر سپاه پاسداران بندیزونه کولی شي، چې په عراق، سوریه او هغو هېوادونو کې پر روانو شخړو اغېز وښندي، چې ایران او واشنګټن دواړه پکې د هغو جنګیالیو ډلو ملاتړ کوي؛ چې د اسلامي دولت د وسلوالو ډلو پر وړاندې جنګېږي.

امریکا اوس ایران ته ځکه په غوسه ده، چې د ایران پاملرنه خپلې ورکړل شوې دندې ته ور واړوي. ایران په واقعي توګه په افغانستان، عراق او اوس په سوریه کې د امریکا د اجنډا په پلي کولو کې په بشپړه توګه مرسته کوي. د اوباما په دوره کې د ایران د هستوي تړون له منځه وړلو څخه د امریکا موخه دا وه، چې له ایران سره عادي اړیکې پیل کړي، تر څو د ایران په چوپړ سره د امریکا لاس نور هم برلاسی شي. امریکا اوس په دې په غوسه ده، چې ایران له روسیې سره په ګډه په سوریه کې د خپل مسولیت له پولو اوړي او هڅه

کوي چې د اسد ځواکونه د سوريې سوېل‌ختيځ ته راستانه کړي. امريکا له دې سره مخالفه ده، ځکه چې امريکا غواړي په سوريه کې د هغه پلان په څېر غير متمرکز نظام ځواکمن کړي، لکه څنګه يې چې په عراق کې رامنځته کړ.

امريکا د اسلامي نړۍ د کنټرول له لاسه ورکولو په حال کې ده. امريکا چې کومې اسلامي خاورې ته ځې هلته له جهاد سره مخ کېږي او د امريکا تر ملاتړ لاندې رژيمونه ورځ تر بلې مجبورېږي، چې پر خپلو خلکو د غرب د پاليسۍ د تحميلولو لپاره ظلم او ديکتاتورۍ ته مخه کړي. امريکا د پخوانۍ برېتانيا تکتيکونه کاروي چې اسلامي رژيمونو يو د بل پر وړاندې کاروي او له مصر څخه يې په ليبيا کې، له پاکستانه په افغانستان کې، له سعودي نه په يمن کې، له ترکيې نه په سوريه کې ګټه واخيسته اوهر يو يې په دغې پروسه کې د سيمه‌ييز ځواک په توګه کاروي او ايران هم له بده مرغه يو بل هېواد دی چې همدغه بڼه لري.

امريکا د ايران له غير مستقيمې مرستې پرته افغانستان ته نه شو راتلی او همدا ايران و چې امريکا يې د عراق له اشغال ضد پياوړي جهاد څخه وژغورله؛ هغه جهاد چې نه يوازې د امريکا د شړلو ګواښ پکې تر سترګو کېده، بلکې د امريکا لاسپوڅی عراقي رژيم يې هم راپرځولو.همدا ايران و چې د امريکا د ګټو خوندي کولو لپاره يې په هغه مهال کار وکړ، کله چې په سوريه کې د امريکا اجېنټ، بشارالاسد د عربي پسرلي له پراخ انقلاب سره مخ شو. په بدل کې يې ايران وتوانېد، چې د بغداد او دمشق رژيمونو بې ارزښته وفاداري لاسته راوړي او اجازه ورکړل شوه؛ چې له غربي هېوادونو سره ډېره محدوده سوداګري او ډيپلوماتيکې اړيکې ولري.

د ايران دغه لوبه ډېره ځوروونکې ده. د ايران د ۱۹۹۷م له انقلابه تمه کېده، چې يو اسلامي انقلاب به وي چې نه يوازې فارسي سلطنت به راوپرځوي؛ بلکې ايران به د بهرنيو قدرتونو په ځانګړې توګه امريکا له چاپلوسۍ هم خلاص کړي.ايران په۱۹۸۰مه لسيزه کې د خليج وحشتناکه جګړه تېره کړه، په دغې جګړه کې صدام حسين په غربي وسلو سمبال و او د ايران ځوان نسل پر وړاندې يې د کيمياوي وسلو له پراخې کارونې کار واخيست. کله چې ايراني رهبران د کفارو چاپلوسي کوي؛ نو دا ټولې قربانۍ به څه ارزښت ولري، همدا اوس هم له روسيې سره يو لاس دي اود بشار الاسد له وحشي رژيم څخه  ملاتړ کوي؛ هغه چې نه يې سني مسلمان بولي او نه يې شيعه. په بنسټيزه توګه په ايران کې انقلاب د اسلامي شرعيت په حاکمولو کې پاتې راغی، په بدل کې يې د ويستفالن د دولت په څېر، يو غربي ډېموکراټيک جمهوري نظام غوره کړ.

تش په نامه مسلمانو متفکرينو د د داسې دولتونو ډول ډول بڼې په ټولو اسلامي هېوادونو کې رامنځته کړې. چې اصلي موخه يې د اسلامي شريعت د تطبيق پر ځای د غربي سيکولر لېبرال فکر منل دي، چې په اسانۍسره به د غرب عيسوي کلتوري ميراث د اسلام ځای ونيسي. دغه هېوادونه ادعا کوي، چې د اسلام ستر ارزښتونه تمثيلوي، په دې توګه اسلام د يوه قانوني نظام په توګه نه؛ بلکې د يوې معنوي او اخلاقي سرچينې په توګه معرفي کوي. که ايراني حکام د شرعي قوانينو تطبيق ته ژمن وی، نو دوی به له شرعي حکم سره سم له کافرو امپرياليستانو سره نه وی يو ځای شوي. الله سبحانه و تعالی په سپېڅلي قران کې فرمايي:

﴿...وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً﴾

[النساء:۱۴۱]

*ژباړه: ...الله د کافرانو لپاره پر مسلمانانو د برلاسي کېدو هېڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې*

دغه ایت ډېره ښه بېلګه ده، چې څنګه له الهی نصوصو څخه د معنوي او اخلاقي لارښوونو او بهرني سیاست شرعي حکم راوباسو. د اسلامي فقې د اصولو له مخې، دغه ایت د الله سبحانه وتعالی له نیت او عمله بحث نه کوي، که څه هم په ژبني لحاظ همداسې ښکاري ځکه که داسې وی، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به یې په واقعیت سره د پېښو مخه نیولې وی.

له دې امله، دا یوازې داسې تفسیرولیاو ژباړلی شو، چې پر مسلمانانو باندې کافران حاکمیت نشي کولی. دا داسې ده لکه یو سړی یې چې زوی ته وایي: مېلمه محترم دی، دغه خبره په حقیقت کې زوی ته یوه لارښوونه ده چې مېلمه ته احترام وکړئ که څه هم ژبنۍ بڼه یې معلوماتو غوندې ده. په پایله کې، مسلمانانو ته اجازه نشته چې د بهرنیو کافرانو د سیاسي اجنډا په خدمت کې وي، په ځانګړې توګه، که دغه اجنډا په دې برخه کې مرسته کوي چې دوی پر اسلامي هېوادونو کنټرول او نفوذ پیدا کړي.له بل پلوه، عصرپیال (مدرنیست) له اسلام څخه په اسانۍ سره اسلامي ارزښتونه لکه: «په اسلام کې مرسته» را اخلي او له خپلې غوښتنې سره سم یې تفسیروي.سره له دې بیا هم، انقلاب ته د امریکا ضد نوم ورکوي او که د ځینو عناصرو ظاهري اخلاص او صداقت ته وګورو؛ دا ځوروونکې ده، چې وینو ایران لا هم د امریکا له اجنډا څخه پیروي کوي. او بله دا، چې د ایران رهبري د دین او امت د ګټو پر ځای د خپلو خلکو او مذهب ګټې اړینې بولي، سره له دې چې اسلام ملي او فرقه یې ویش نه مني. اسلام د نظرونو اختلاف او فکري بحثونه په پرانیستې غېږه مني او په پایله کې مسلمانان واحد امت دی او د واحد الله سبحانه وتعالی عبادت کوي.

ایراني حکامو فکر کاوه، چې له امریکا سره به د دوی یو ځای کېدل د دوی ځواک او د دولت نفوذ زیات کړي. دوی خپله ملي او مذهبي اجنډا په افغانستان، عراق او سوریه کې د نورو مسلمانانو تر ګټو اړینه وګڼله. سربېره پر دې، د ایران حکامو لکه د نورو اسلامي دولوتونو د حکامو غوندې، لا هم نه ده درک کړې، چې کفار پرته له خپلو ګټو بل څه ته ژمن نه دي.امریکا کله له مسلمانو حکامو څخه ګټه اخلي او کله یې پرېږدي او دا زموږ ځینو حکامو تجربه کړې، خو بیا هم نه شعور او نه وقار لري، چې د امریکا هرکلیو ته په داسې حال کې ادامه ورکوي؛ چې څو ځلې پرې رټل شوي.

اوس یې وخت را رسېدلی، چې د ایران مخلص مسلمانان نشنلېزم او مذهبپالنې ته په بشپړه توګه، نه وواییي او مسلمانان یو د بل تر څنګ، اسلام ته صادق او د کفارو پر وړاندې ودرېږي. دا مسلمانان به هغه وخت د خپلو چارو بشپړ کنټرول تر لاسه کړي، چې د نبوت پر منهج داسې راشده اسلامي دولت، چې د واحد امام تر رهبرۍ لاندې اسلامي شریعت پلی او نړۍ ته یې پیغام ولېږدوي؛ تاسیس کړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**فایق نجاح**

**۱۴۳۹ه.ق، د محرم ۲۲مه**

**۲۰۱۷م، د اکتوبر ۱۲مه، پنجشنبې**

**ژباړه: عبادالله**